# د دولسم ټولګي
# له تدريسي کتاب
# څخه پوښتني

دیزاین: الحاج محمد شاه پیمان سویدن



۱۳۹۷

ليكونكى : سيلانى


www.haqiqat.se

# د دولسم ټولګي د کانکور پوښتني

**1. د عرفان کلمې سمه په معنا په نښه کړئ.**

الف : خدای پېژندنه
ب : کلتور
ج : عنعنات
د : پوهنه

**2. علي محمد مخلص د کومې دورې شاعر دی؟**



الف : لرغونې
ب : منځنۍ
ج : معاصرې
د : خورا لرغونې

**3. علي محمد مخلص د کوم ادبي مکتب پیرو دی؟**

الف : رحمان بابا
ب : خوشحال بابا
ج : حمید بابا
د : بایزید روښان

**4. د (( د ښن )) لغت ضد معنا په نښه کړئ.**

الف : ټولګیوال
ب : دوست
ج : دښمن
د : الف او ب

**5. د (( مراته العارفین او سراج العارفین )) لیکوال څوک دی ؟**

الف : ابابکر کندهاری
ب : احداد
ج : الهداد
د : علي محمد مخلص

**6. علي محمد مخلص په کومو کلونو کې ژوند کړی دی ؟**


الف : ۱۰۱۵ هـ.ق
ب : ۱۱۲۰ هـ.ق

ج : ۱۰۲۰ هـ.ق
د : الف او ج

**7. (( حالنامه )) د چا اثر دی ؟**

الف : بایزید روښان
ب : علي محمد مخلص
ج : بایزید انصاري
د : ټول ناسم

**8. د علي محمد مخلص حالنامه د چا په زیار د چاپ ډګر ته را ووته ؟**



الف : حبیب الله رفیع
ب : دوست محمد کامل
ج : مهجور خویشکي
د : الف اوب

**9. د علي محمد د مړینې نېټه په کوم کال اټکل شوې ؟**

الف : ۱۱۱۵ هـ.ق
ب : ۱۰۲۰ هـ.ق
ج : ۱۰۸۰ هـ.ق
د : ب او ج

**10. د (( او اللعزم )) سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : نبیان
ب : پیغمران
ج : د قوي ارادې پیغمبران
د : ټول ناسم

**11. د جمعه بارکزي دېوان په کوم کال د چاپ ډګر ته راوتی دی ؟**

الف : ۱۳۶۰ هـ.ق
ب : ۱۱۳۰ هـ.ق
ج : ۱۰۶۰ هـ.ق
د : ۱۱۲۰ هـ.ق

**12. پښتانه شعرا د جمعه بارکزي د مړيني نېټه کوم کال ښودلي ؟**


الف : ۱۲۵۸ هـ.ق
ب : ۱۳۵۹ هـ.ق

ج : ۱۲۵۹ هـ.ق
د : ټول ناسم

**13. (( د افغانستان ژبې او توکمونه )) د چا اثر دی ؟**

الف : عبدالحی حبیبي
ب : ارواښاد دوست شینواری
ج : حبیب الله رفیع
د : الفستون

**14. ((ارکیالوژیکي )) غونډ یا اصطلاح دکومي پوهی لپاره کارول کیږي ؟**



الف : لرغونپوهنی
ب : فلکور پوهنې
ج : ملت پېژندنې
د : ټول سم

**15. (( پښتو ژبه )) د کومو لویو کورنیو له ډلې څخه ده ؟**

الف : هند اروپایي
ب : هندو آریایي
ج : هندو جرمن
د : ټول سم

**16. (( پښتانه )) د چا اثر دی ؟**

الف : حبیبي
ب : دوست شینواری
ج : صابره شعاع
د : حبیب الله تږی

**17. کومو لیکوالو پښتو ژبه د هندو اریایي ژبې ختیځې څانګې ( هندي ) پورې تړلې ؟**

الف : رابرټ لیچ
ب : رودولف هورنل
ج : ماکس میولر
د : الف او ب

**18. هغه پوهان چې پښتو ژبه د هندو آریایي ژبې لودیځې څانګې پورې تړي کوم دي ؟**

الف : ماکس میولر
ب : شیلي ډېور

ج : الف اوب

د : حبیب الله رفیع


**19. (( پښتو له زند او اوستا سره نږدې اړیکي لري، خو د هندي ژبو یو شمېر ځانګړني یې خپلې کړي دي )) دکوم پوه نظر دی ؟**

الف : ډامسټټر

ب : راورټي

ج : مورګن سټېرن

د: الفنسټون



**20. (( د پښتو ادبیاتو تاریخ )) د چا اثر دی ؟**

الف : هربریت پنزل

ب : حبیبي

ج : مجاور احمد زیار

د : جبیب الله تږی

**21. (( پښتو د اوستا او سانسګریت )) تر منځ د وصل کړئ ده ؟**

الف : سبیستیان هاینه

ب : اسلانوف

ج : ډورن

د : حبیبي

**22. (( اتنولوجي یا اتنوګرافي )) د کومي پوهني لپاره کارول کیږي ؟**

الف : توکم پېژندنه

ب : نژاد پېژندنه

ج : ملت پېژندنه

د : ټول سم

**23. په پښتو ژبه کې لومړنی لاسته راغلی نثري اثر کوم دی ؟**

الف : سالو وږمه

ب : خیرالبیان

ج : تذکرته اولیا

د : ټول ناسم

**24. د پوهاند حبیبي په زیار لاندې کوم اثر لاسته راغلی دی؟**

الف : خیرالبیان


ب : معرفته الافغاني

ج : سالو وږمه
د : تذکرته اولیا

**25. د (( مشاهیر )) وی یا لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : نومیالي
ب : عالمان
ج : مخور
د : ټول سم

**26. په تذکرته اولیاکي دکومو شاعرانو یادونه شوې ده ؟**



الف : بېټ نېکه
ب : ملکیار غرشین
ج : شېخ اسماعیل
د : ټول سم

**27. لاندې کوم اثر ابو هاشم سرواڼي ته اړوند دی ؟**

الف : پټه خزانه
ب : تذکرته اولیا
ج : سالو وږمه
د : بوستان اولیا

**28. فولکور د کومې ژبې کلمې ده ؟**

الف : لاتیني
ب : فرانسوي
ج : الماني
د: ایتالیاوي

**29. د (( فولک )) کلمه څه معنا ورکوي ؟**

الف : پوهه
ب : خلک
ج : ځای
د : شکل

**30. د (( لور )) کلمې سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : پوهه
ب : شکل

ج : سیمه
د:  فورم

**31. پښتو شفاهي ادبيات په لومړي سرکې په څو برخو وېشل کيږي ؟**

الف : دوه
ب : څلور
ج : شپږ
د : ټول ناسم

**32. (( د خلکو سندرې )) د چا اثر دی ؟**

الف : حبیب الله تږی
ب : عبد الله بختانی
ج : ډارمسټټر
د : حبیب الله رفیع

**33. ولسي منظومه برخه په څو برخو وېشل کيږي؟**

الف : څلور
ب : درې
ج : دوه
د : شپږ

**34. (( پښتانه که څه هم ورځپاڼي او خپروني نه لري، خو هغه ساده او عاميانه اشعار او بدلې دهغوی تاريخ او ورځپاڼې بلل کيږي .)) د کوم بهرني پوه نظر دی ؟**

الف : راوټي
ب : ډارمسټټر
ج : سبیستیان
د : شلي ډېور

**35. (( منظوم چستانونه ، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې،کیسی، د لویانو سندرې،د آتڼ نارې، بابولالي، لنډۍ يا ټپې، سروکي منظوم متلونه،د هوتکو نارې،کاکړۍ او ساندې )) د مظومې کومې برخې پورې تړل کيږي ؟**

الف : ځانګړي
ب : خاص
ج : عام
د : الف اوب

**36. (( د پښتونخوا د شعر هارو بهار )) د چا اثر دی ؟**

الف : اسلانوف

ب : والټر بيليو

ج : ډارمسټېټر

د : موګن ستپرن

**37. لاندې کوم اثر عبد الله بختاني ته اړوند دی ؟**

الف : د خلکو سندرې

ب : ولسي سندرې

ج : پښتو سندرې

د : توربېښ

**38. (( مقامونه، چاربيتي ،بدلي،بګتی،لوبی، کيسي او داستانونه )) د منظومې کومې برخې پورې تړل کيږي ؟**

الف : عام

ب : خاص

ج : عام او خاص

د : الف اوب

**39. په پښتو ولسي ادب کې تر ټولو پخواني شعري فورم کوم دی ؟**

الف : چاربيته

ب : لنډۍ

ج : ټپه

د : ب او ج

**40. (( چاربيته د پښتنو پوليکلی تاريخ دی ددوی د جنګونو او غزاګانو تاريخ په چاربيتو کې نغښتی دی )) د چا نظر دی ؟**

الف : ډارمسټېټر

ب : راورټي

ج : توربرن

د : شلي ډېور

**41. پښتو ولسي چاربيتي د افغانانود کومې جګړې زياترې برخې خوندي کړي دي؟**

الف : افغان شوروي

ب : افغان انګليس

ج : الف او ب


د : ټول سم

**42. (( د ډکې غزا )) د کوم ليکوال په چاربيته کې خوندي ده ؟**

الف : لالپوري
ب : احمد جان
ج : رحمان بابا
د : ټول ناسم

**43. (( د ډکې غزا )) د افغان او انګلیس د کومې جګړې یادونه کوي ؟**

الف : لومړۍ
ب : دویمې
ج : دریمې
د : ټول سم



**44. د (( دندوکار )) لغت سمه معنا په نښه کړ ئ.**

الف : روښانه
ب : توره تیاره
ج : شپه
د : ورځ

**45. (( جغرافیایي سندرې، تاریخي سندرې، قصصي،انتقادي...)) د ولسي سندرو کوم ډول وېشنه ده ؟**

الف : موضوع
ب : شکل
ج : تاریخي
د : فورم

**46. د (( میخزین )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : وسله
ب : تدارکات
ج : نظام
د: الف او ب

**47. پښتو ژبې ته بوللـه په کومې پېړۍ کې را دننه شوې ده ؟**


الف : دریمه
ب : څلورمه
ج : دویمه
د : پنځمه

**48. ښکارندوی په کومې پېړۍ کې ژوند کاوه؟**

الف : ځلورمه
ب : شپږمه
ج : پنځمه
د : ټول ناسم

**49. لرغوني پښتانه د چا اثر دی ؟**

الف : ښکارندوی
ب : محمد سوري
ج : شيخ کټه
د : محمد هوتک



**50. ښکارندوی د کوم واکمن په ستاينه کې بولـله ويلي ؟**

الف : سلطان محمد سام شنسباني
ب : سلطان شهاب الدين
ج : شيخ اسعد سوري
د : الف اوب

**51. په لاندې کومو شعري فورمونو کې د قافيې راوړل اړين دي ؟**

الف : غزل
ب : قصيده
ج : مثنوي
د : ټول سم

**52. په لاندې بيت کې د قافيې کلمې په نښه کړئ.**

*خيال کې دې جانانه تصويرونه جوړوم* *زړه سکون ومه ستا يادونه جوړوم*

الف : جوړوم
ب : تصويرونه ، يادونه
ج : يادونه
د : ټول سم

**53. (( د دورونو روستی هماهنګي عبارت دی له ))؟**


الف : غزل
ب : بيان
ج : قافيه
د : رديف

**54. (( هغه توری چې له هغه څخه پرته د قافيې همغږي نه راځي )) عبارت دی له ؟**

الف : ردف
ب : الف تاسیس
ج : رس
د : روي

**55. د حرکت له مخې روي په څو برخو وېشل کېږي؟**

الف : دوه
ب : درې
ج : پنځه
د : شپږ



**56. (( دستارنامه )) په کومه برخه کې لیکل شوی؟**

الف : نثر
ب : نظم
ج : مسجع نثر
د : الف او ج

**57. خوشحال خان دستار نامه په کوم کال لیکلې ؟**

الف : ۱۰۷۶ هـ.ق
ب : ۱۱۰۰
ج : ۱۰۶۷ هـ.ق
د : ۱۰۳۴ هـ.ق

**58. خوشحال بابا دستارنامه په کوم زندان کې لیکلې ده ؟**

الف : ګوالیارد
ب : رنتبور
ج : میرتیا
د : تول ناسم

**59. خوشحال خان د کوم مغلي واکمن په وخت کې زنداني شو؟**


الف : اورنګزیب
ب : اکبر
ج : شاجهان
د : اکبر

**60. (( په لاس لیکل شوي او خطاطي شوي )) اثار د څه شي په نوم یادیږي؟**

الف : قلمي پانګه
ب : تاريخي اثار
ج : ملي اثار
د : ټول ناسم

**61. دپښتو ژبې د قلمي پانګې د څو کتابونو څرک تر اوسه په ګوته شوی ؟**

الف : ۴۰۰۰
ب : ۳۰۰۰
ج : ۲۰۰۰
د : ۵۰۰۰



**62. د پښتو ژبې تر ټولو زياتې قلمي نسخې په کوم ځای کې خوندي دي ؟**

الف : افغانستان اکاډمی
ب : پېښور اکاډمی
ج : برټېش کتابتون
د : هند کتابتون

**63. د پښتو ژبې ( ۱۴۴ ) قلمي نسخې په کوم هېواد کې خوندي دي ؟**

الف : هند
ب : بريتانيا
ج : شوروي
د : کابل

**64. په پښتو ژبه کې د تاليف له مخې تر ټولو زړه نسخه د څه شي په نوم يادېږي ؟**

الف : خيرالبيان
ب : تذکرته الابرار و اشرار
ج : سالووړمه
د : تذکرته اوليا

**65. دکتابت له مخې د پښتو ژبې تر ټولو زړه نسخه کومه ده ؟**


الف : خيرالبيان
ب: سالووړمه
ج : تذکرته اوليا
د : پټه خزانه

**66. (( خيرالبيان )) په کوم کال ليکل شوی ؟**

الف : ۱۰۷۶ هـ.ق
ب : ۶۱۲ هـ.ق
ج : ۱۰۹۹ هـ.ق
د : ۱۰۶۱ هـ.ق

**67. د پښتوژبې په قلمي پانګې کې هغه اثر چې تر ټولو زیاتې قلمي نسخې یې لاسته راغلي دي کوم دی؟**

الف : پټه خزانه
ب : خیرالبیان
ج : مخزن الاسلام
د: ټول ناسم



**68. په برېټش موزیم کې د پښتو ژبې څو قلمي نسخې خوندي دي؟**

الف : ۱۴۴
ب : ۱۶۹
ج : ۱۷۷
د : ۵۰

**69. د کوم اثر ( ۳۰۰ ) قلمي نسخې لاسته راغلي دي ؟**

الف : پټه خزانه
ب : تذکرته اولیا
ج: سالووړمه
د : مخزن الاسلام

**70. (( لیلی او مجنون )) د چا اثر دی ؟**

الف : سکندر خان
ب : افضل خان
ج : صدر خان
د : حمید بابا

**71. د پټې خزانې کتابت په کوم کال تر سره شوی ؟**


الف : ۱۰۹۹ هـ.ق
ب : ۱۳۰۳ هـ.ق
ج : ۱۰۶۱ هـ.ق
د : ۱۱۴۱ هـ .ق

**72. په پښتو ژبې کې دهندي سبک رامنځته کوونکی کوم شاعر دی ؟**

الف : حمید بابا
ب : کاظم خان شیدا
ج : علي خان
د : بېدل

**73. حمیدبابا دکومې دورې شاعر دی ؟**

الف : پخوانۍ
ب : منځنۍ
ج : لرغوني
د : معاصره



**74. د حمید مومند ژوند ترکوم کال پورې اټکل شوی؟**

الف : ۱۱۴۵ هـ.ق
ب : ۱۱۵۸هـ.ق
ج : ۱۱۴۸ هـ.ق
د : ۱۱۴۶هـ.ق

**75. د حمید بابا د مړینې مزار په کوم ځای کې دی ؟**

الف : هندوستان
ب : پېښور
ج : افغانستان
د : ماشو هدیره

**76. شاه او ګدا د کوم لیکوال د اثر ژباړه ده ؟**

الف : مولانا غنیمت
ب : هلالي چغتایي
ج : محمود بن ابوبکر
د : تول ناسم

**77. د حمید بابا په دېوان کې د بیتونو شمېر څو ته رسي ؟**


الف : ۲۹۳۲
ب : ۲۹۲۳
ج : ۹۹۳۳
د : ۲۹۱۳

**78. نیرنګ عشق د چا اثر دی ؟**

الف : مولانا غنيمت
ب : محمود بن ابوبکر
ج : حميد بابا
د : ټول سم

**79. لاندې اثارو کې کوم اثر حميد بابا ته اړوند دی ؟**

الف : نيرنګ عشق
ب : شاه اوګدا
ج : شرعته الاسلام
د : ټول سم



**80. د حميد بابا کوم اثر د حضرت محمد (ص) د سنتو په هکله دی ؟**

الف : نيرنګ عشق
ب : شاه او ګدا
ج : شرعته الاسلام
د : ديوان

**81. د کوم ليکوال ديوان د در مرجان په نوم يادېږي ؟**

الف :خوشحال خان
ب : حمزه بابا
د : بايزيد روښآن
د : حميد مومند

**82. احمد شاهي شهنامه د چا له خوا ليکل شوې ؟**

الف : حافظ مرغزي
ب : هلالي چغتايي
ج : واصل
د : ټول ناسم

**83. احمد شاهي شهنامه په کوم کال بشپړه شوې ؟**


الف : ۱۱۷۹ هـ.ق
ب : ۱۱۷۶ هـ.ق
ج : ۱۱۳۴ هـ.ق
د : الف او ب

**84. شهنامه کوم ډول اثر ته ويل کيږي؟**

الف : تر ډېره حماسي بڼه لري.
ب : د واکمنانو،امیرانو،پاچاهانو او پهلوانانو د حالاتو او پوځي کارنامو په اړه کښل کیږي.
ج : د پادشاه یادونه پکې کیږي.
د : الف اوب

**85. د احمدشاهي شهنامې قلمي نسخه په کوم هېواد کې ساتل کیږي ؟**

الف : هندوستان
ب : روسیه
ج : برېتانیا
د : پېښور



**86. حافظ ګل مرغزي په کوم کال زېږېدلی ؟**

الف : ۱۱۲۶ هـ.ق
ب : ۱۱۷۶ هـ.ق
ج : ۱۱۷۹ هـ.ق
د : ۱۱۲۳ هـ.ق

**87. احمد شاهي شهنامه د څو فصلونو او بحثونو درلودونکی دی ؟**

الف : ۲۲
ب : ۳۴
ج : ۳۶
د : ۴۴

**88. په افغانستان کې لومړنۍ مطبعه په کوم کال فعاله شوه ؟**

الف : ۱۸۷۰ م
ب : ۱۸۷۴ م
ج : ۱۸۱۸ م
د : ۱۸۹۰ م

**89. په افغانستان کې لومړنۍ جریده د څه شي په نوم یادیږي ؟**


الف : مصطفاوي
ب : مرتضاوي
ج : شمس النهار
د : افغان

**90. (( شمس النهار )) په کوم کال خپره شوه ؟**

الف : ۱۸۷۰ م
ب : ۱۸۷۴ م
ج : ۱۷۹۰ م
د : ۱۸۹۴ م

**91. د (( سراج الاخبار )) جرېدې مسوول څوک و؟**

الف : محمد طرزي
ب : عبدالهادي داعي
ج : مولوي عبدالروف کندهاري
د : ټول ناسم



**92. حبيبيه لېسه په کوم کال جوړه شوه ؟**

الف : ۱۹۰۳ م
ب : ۱۹۰۴ م
ج : ۱۹۳۶ م
د : ۱۹۴۴ م

**93. محمود طرزي د کومې جرېدې مسوول و؟**

الف : سراج الاخبار
ب : امان افغان
ج : انيس
د : سراج الاخبار افغانيه

**94. د پښتو ادب معاصره دوره په لره پښتونخوا کې په کوم کال پيلېږي ؟**

الف : ۱۹۱۰ م
ب : ۱۹۱۱ م
ج : ۱۹۱۹ م
د : ۱۹۱۷ م

**95. په افغانستان کې په کوم کال پښتو معاصره دوره پيلېږي ؟**


الف : ۱۹۱۱۹ م
ب : ۱۹۱۱ م
ج : ۱۱۲۳ ه.ش
د : ټول ناسم

**96. د پښتو ادبياتو د معاصرې دورې غوره ځانګړنه په نښه کړئ.**

الف : د موضو ع او فکر له پلوه نوې موضوعګانې ور داخلې شوې
ب : شعري فورمونه را دننه شول
ج : د عربي ژبې خصوصيات يې ځانته واخستل
د : ټول سم

**97. په لاندې ليکوالانو کې د پښتو ژبې د لومړۍ دورې شاعران په نښه کړئ.**

الف : مولوي صالح محمد کندهارى
ب : غلام محى الدين افغان
ج : عبدالهادي داوي
د : ټول سم



**98. په کوزه پښتونخوا کې د لومړۍ دورې شاعران کوم دي ؟**

الف : مولوي احمد
ب : احمد جان
ج : مير احمد شاه رضواني
د : ټول سم

**99. غني خان په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغوړولې ؟**

الف : ۱۹۱۴ م
ب : ۱۹۹۶ م
ج : ۱۹۵۶ م
د : ۱۹۹۶ م

**100. غني خان په کوم کال له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې ؟**

الف : ۱۹۹۶ م
ب : ۱۹۹۹م
ج : ۱۹۵۳ م
د : ۱۹۵۴ م

**101. په لاندې اثارو کې د غني خان اثار په نښه کړئ.**

الف : د پنجرې چغهار
ب : د غني پلوشې
ج : پانوس
د : ټول سم

**102. د پنجرې چغهار په کوم کال د چاپ ډګر ته وواته ؟**

الف : ۱۹۵۶ م

ب : ۱۳۳۹ هـ.ش

ج : ۱۹۷۸ م

د : ۱۳۶۴ هـ.ش

**103. (( پانوس )) په کوم کال چاپ شو ؟**

الف : ۱۳۶۴ هـ.ش

ب : ۱۹۷۸ م

ج : ۱۳۳۹هـ.ش

د : ۱۹۹۶ م

**104. د غني خان د شعر لومړنۍ ټولګه د څه په نوم یادیږي ؟**

الف : پانوس

ب : د غني کلیات

ج : د غني پلوشې

د : د پنجرې چغهار

**105. د (( د خدایي خدمتګار )) ګوند مشر څوک و؟**

الف : ماسټر عبدالکریم

ب : منشي احمد جان

ج : خان عبدالغفار خان

د : ټول ناسم

**106. په روسیه کې دپښتو په هکله لومړني کارونه په کومه ژبه پیل شول ؟**

الف : جرمني

ب : انګلیسي

ج : فارسي

د : پښتو

**107. (( ګولډن شتیت پښتو جرمني قاموس )) په کوم کال راخپور ؟**

الف : ۱۷۹۱ م

ب : ۱۸۹۱م

ج : ۱۹۹۱م

د : ۱۸۱۸م

**108. (( د افغانانو ژبه )) د چا اثر د ی ؟**

الف : ډورن
ب : کلاپروت
ج : حبیب الله تږی
د : راورټي

**109. (( اندرییویچ ډورن )) کوم هېواد ته اړوند لیکوال دی ؟**

الف : المان
ب : جرمني
ج : روسیه
د : الف اوب

**110. د کوم ختیځ پوه په برکت په روسیه کي د پښتو ژبې د زده کړې لړۍ پیل شوې ؟**

الف : ډورن
ب : راورټي
ج : ډارمستټر
د : شلي ډېور

**111. (( پښتو منتخبات )) د چا اثر دی ؟**

الف : موګن ستیرن
ب : والټر بیلیو
ج : راورټي
د: ډورن

**112. لاندې اثارو کې کوم اثر راورټي ته اړوند دی ؟**

الف : پښتو منتخبات
ب : ګلشن روه
ج : پښتو ګرامر
د : پښتو انګلیسي قاموس

**113. ډورن په کوم کال زیږېدلی ؟**


الف : ۱۸۲۵م
ب : ۱۸۰۵م
ج : ۱۸۳۴ م
د : ۱۸۷۶ م

**114. (( پښتو ګرامر او پښتو ډکشنري )) د کوم لیکوال اثار دي ؟**

الف : راورټي
ب : ماکس میولر
ج : والټر بیلیو
د : ټول ناسم

**115.  (( راورټي )) کوم هېواد ته اړوند لیکوال دی ؟**

الف : جرمني
ب : فرانسه
ج : هندوستان
د : برېټانیا



**116.  والټر بیلیوپه کوم کال زیږېدلی ؟**

الف : ۱۸۲۵ م
ب : ۱۸۳۴ م
ج : ۱۸۷۶ م
د : ۱۸۴۹ م

**117.  ((  بنو ـ زمونږ افغاني سرحد )) د چا اثر دی ؟**

الف : والټر بیلیو
ب : راورټي
ج : مورګن سټیرن
د : توربرن

**118.  والټر بیلیو د کوم هېواد لیکوال دی ؟**

الف : هند
ب : فرانسه
ج : پولنډ
د : چین

**119.  په لاندې لیکوالو کې کوم لیکوال پښتو ژبه د هندو اریایي ژبې لویدیځې څانګې یا اریاني پورې اړونده کړې ؟**


الف : راورټي
ب : حبیبي
ج : ډارمسټټر
د : ټول ناسم

**120.  (( د پښتو نخوا د شعر هارو بهار))  د چا اثر دی ؟**

الف : حبیب الله تړی
ب : دوست شینواری
ج : حبیب الله رفیع
د : ډارمستیتر

**121. (( ډار مستیتر )) کوم هېواد ته اړوند لیکوال او ختیځ پوه دی ؟**

الف : المان
ب : بریټانا
ج : فرانسه
د : ټول ناسم



**122. (( د انګریزانو په وړاندې د پښتنو د ولسي شاعرانو حماسي او تاریخي سندرې او چاربیتې یې یکې را ټولې کړې دي )) د کوم اثر منځپانګه جوړوي ؟**

الف : د پښتونخوا د شعر هارو بهار
ب : ګلشن رو
ج : بنو – زمونږ افغاني سرحد
د : پښتو منتخبات

**123. (( مارګن ستیرن ))کوم هېوادته اړوند ختیځ پوه دی ؟**

الف : پولنډ
ب : چک
ج : روسیه
د : ناروې

**124. لاند کوم لیکوال د پښتو ژبې د معاصر او نوي تحقیق اوتد ریس له سترو استادانو څخه و؟**

الف : عارف عثمانو
ب : اسلانوف
ج : ماګن ستیرن
د : والټربیلیو

**125. د ختځ پوهانو څېړنې د پښتوژبې په برخه کې، پښتو ژبې ته کومې لاسته راوړنې لري ؟**

الف : د پښتو ژبې ځینې غنیمت قلمي اثار له ورکېدو ژغوري...
ب : د پښتو ادب ډېره ولسي پانګه یې له مرګه ژغورلې ده
ج : دوی د پښتتو ژبه ، کلتور اوادب نړیوالو ته ورپېژني
د : ټول سم

**126. (( الف جانه خټک )) په کوم کال زیږېدلې ؟**

الف : ۱۹۲۷ م

ب : ۱۸۲۹ م

ج : ۱۷۲۷م

د : ۱۸۲۷


**127. (( پښتو ادب کې د میرمنو برخه )) د چا اثر دی ؟**

الف : الف جانه خټک

ب : شاه جهان

ج : مېرمن نېک بخته

د : ټول ناسم



**128. د (( انجمن )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : ملګري

ب : ټولنه

ج : ګاونډیان

د : ټول سم

**129. د (( سماج )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : ټولنه

ب : خلک

ج : ښوونکی

د : الف او ب

**130. ترکیب بند کوم ډول شعري فورم دی ؟**

الف : چې د بندونو په منځ کې یو بیت عیناً تکرار راشي.

ب : چې د بندونو په منځ کې یو بیت تکرار را نه شي.

ج : چې د بندونو تر منځ کې یو بیت تکرار را نشي.

د : ټو ل سم

**131. ))مېرمن الف جانه خټک )) د کومې سمې لیکواله ده ؟**

الف : کندهار

ب : کابل

ج : هرات


د : پېښور

**132. د تاریخ په رڼاکې دکومو هېوادونو کیسې ډېرې لرغونې دي ؟**

الف : مصر
ب : هند
ج : یونان
د : ټول سم

**133. د مصر کیسې د میلاد څخه مخکې کومو پېړیو ته رسیږي ؟**

الف : ۲۰۰ ق.م
ب : ۶۰۰ق .م
ج : ۴۰۰ ق.م
د : ټول ناسم



**134. خیال بخاري د کومې سیمې لیکوال و؟**

الف : افغانستان
ب : پېښور
ج : کندهار
د : ټول سم

**135. د (( ټوټکي )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : شګون
ب : جادو
ج : سحر
د : ټول سم

**136. د افساني منځپانګه په کومو موضوعګانو پورې تړلي وي ؟**

الف : حقیقت
ب : واقیعت
ج : خیالي پېښو،خیالي څېرو او خیالي څیزونو پورې
د : الف اوب

**137. د تاریخ نه مخکې دوره کومه دوره وه؟**


الف : هغه دوره وه چې لیک نه و را منځته شوی...
ب : هغه دوره وه چې انسان نه و پیدا شوی...
ج : هغه دوره وه چې کیسه نه وه را منځته شوې...
د : هغه دوره چې تاریخ نه و را منځته شوی...

**138. موسی شفیق دکومې دورې شاعر دی ؟**

الف : لرغونې
ب : منځنۍ
ج : معاصره
د : الف او ب

**139. د موسی شفیق د لنډو کیسو ټولګه د څه شي په نوم یادیږي ؟**

الف : هفته يې کودک
ب : عبقریان
ج : ډاکټر صیب
د : د تمې کاروان



**140. موسی شفیق په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغوړولې ؟**

الف : ۱۳۰۷ هـ.ش
ب : ۱۳۵۷هـ.ش
ج : ۱۳۰۸هـ.ش
د : ۱۳۰۹ هـ.ش

**141. په لاندې اثارو کې کوم اثر د موسی شفیق شعري ټولګه ده ؟**

الف : عبقریان
ب : پیغام
ج : دننګرهار شاعران
د : ټول ناسم

**142. موسی شفیق په کوم کال له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې؟**

الف : ۱۳۵۸ هـ.ش
ب : ۱۳۸۸هـ.ش
ج : ۱۳۰۸ هـ.ش
د : ۱۳۵۷هـ.ش

**143. په لاندې ځانګړتیاوو کې د موسی شفیق دنثر ځانګړتیاوې په نښه کړئ.**

الف : په زړه پورې داستاني نثر.
ب : طنز او دخندا په بڼه د ژورو موضوعګانو ځایول
ج : د افغاني ټولنې دهغه وخت حالات.
د : ټول سم

**144. (( عبقریان )) په کوم کال د چاپ ډګر ته ووته ؟**

الف : ۱۳۳۸هـ.ش
ب : ۱۳۴۶ هـ.ش
ج : ۱۳۶۷ هـ.ش
د : ۱۳۴۴هـ.ش

**145. د لاندې شعر شاعر په نبنه کړئ.**

*پاکې کړئ لارې د خپل قوم خادمانو لره*      *د وفا لاس ورکړئ د صدق خاوندانو لره*

*د نوي عصر نيرنګونو بل افسون راوړی*      *سترګې په برید پرانیستې ښايي افغانانو لره*

الف : حبيبي
ب : خادم
ج : بېنوا
د : موسی شفيق

**146. د (( درنګ )) لغت سمه معنا په نبنه کړئ.**

الف : کان
ب : معدن
ج : دريا
د : الف او ب

**147. لاندې شعر کوم شاعر ته اړوند دی ؟**

*طامع همېش وي په انتظار کې*      *آب يې د مخ ځي په هر ديار کې*

*ګنج چې دصبر پيرمحمد بيامونډ*      *توانګر باله شي په دا ديارکې*

الف : پير محمد کاکړ
ب : اسحاق ننګيال
ج : حبيبي
د : رحمان بابا

**148. ناول دکومې ژبې کلمه ده ؟**

الف : الماني
ب : ايټالياوي
ج : انګليسي
د : لاتيني

**149. د (( نمري )) لغت سمه معنا په نبنه کړئ.**

الف : زمري
ب : حیوان
ج : وحشي حیوان
د : جامي

**150. ناول د ایتالیایي ژبې له کومې کلمې څخه لاسته راغلې ؟**

الف : نو ویلا
ب : نو ویلاى
ج : نویلالي
د : ټول سم

**151. د (( ناول )) دکلمې معنا په نښه کړئ.**

الف : نوې
ب : کوچني
ج : خیالي
د : الف او ب

**152. د (( رومان )) د تورو د اوږ والي اندازه څو ته رسیږي ؟**

الف : دیرش زره
ب : څلوېښت زره
ج : پنځوس زره
د : ټول سم

**153. ناول زموږ ادبیاتو ته په کومه بڼه را دننه شوی دی ؟**

الف : په لیکل شوې بڼه
ب : د ژباړې په بڼه
ج : د کیسي په بڼه
د : په خیالي بڼه

**154. پښتو ژبې ته ناول له کومې ژبې څخه را دننه شو؟**


الف : انګلیسي
ب : هندي
ج : اردو
د : فارسي

**155. لاندې کوم ناولونه پښتو ژبې د ژباړې لومړني ناولونه دي ؟**

الف : توبته النصوح
ب : مرآته العروس
ج : نوې څپې
د : الف اوب

**156. لاندې کوم اثار ډپټي نذیراحمد ته اړوند دي ؟**

الف : نوې دنیآ
ب : توبته النصوح
ج : مراته العروس
د : ب او ج



**157. (( مرآته العروس )) په کوم نوم پښتوژبې ته وژباړل شو؟**

الف : نقش نګین
ب : نوی پښتون
ج : دماه رخې
د : د حجاز سفر

**158. (( مرآته العروس )) دچا له خواپښتو ژبې ته را وژباړل شو؟**

الف : میا حسیب ګل کاکا خېل
ب : میا محمد یوسف
ج : حمزه بابا
د : سید راحت زاخیلي

**159. د (( تمهید )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : سریزه
ب : مقدمه
ب : پیلیزه
د: ټول سم

**160. (( پېغله )) نومې ناول د چا اثر دی ؟**


الف : سید راحت زاخیلي
ب : حمزه بابا
ج : صاحبزاده محمد ادریس
د : ټول سم

**161. (( توبته النصوح )) د چا له خوا پښتو ژبې ته را وژباړل شو؟**

الف : میا حسیب گل کاکا خېل
ب : میا محمد یوسف
ج : حمزه بابا
د : سید راحت زاخیلي

**162. د اردو ژبې لومړنی ناول لیکونکی په نښه کړئ.**

الف : اقبال لاهوري
ب : میاحسیب گل کاکا خېل
ج : ډپټي نذیر احمد
د : سمندرخان



**163. (( نقش نگین)) په کوم کال له اردو ژبې څخه را وژباړل شو؟**

الف : ۱۸۷۷ م
ب : ۱۹۰۴
ج : ۱۹۱۰ م
د : ۱۹۵۰ م

**164. د (( چېتر )) لغت سمه معنا په نښه کړئ ؟**

الف : منی
ب : ژمی
ج : دپسرلي باراني میاشت
د : اوړي

**165. په پښتو ژبه کې د لومړني ناول لیکوال په نښه کړئ؟**

الف : حبیبي
ب : برهان الدین کشککي
ج : ډپټي نذیر احمد
د : سیدراحت زاخیلي

**166. (( نقش نگین )) په کوم کال د چاپ ډکر ته ووت ؟**


الف : ۱۹۵۷ م
ب : ۱۹۰۴ م
ج : ۱۹۵۰ م
د: ۱۹۱۷ م

**167. د پښتوژبې لومړنی ناول د څه شي په نوم یادیږي؟**

الف : د ماه رخې
ب : نتیجه عشق
ج : الف او ب
د : کونډه انجلۍ

**168. توبه النصوح په کوم کال چاپ او وژباړل شو؟**

الف : ۱۹۱۴ م
ب : ۱۹۱۷ م
ج : ۱۹۱۰ م
د : ۱۹۰۴ م



**169. د پښتوژبې لومړنی ناول په کوم کال ولیکل شو؟**

الف : ۱۹۱۰ م
ب : ۱۹۱۴ م
ج : ۱۹۱۷ م
د : ۱۹۱۸ م

**170. (( زړکې سترګې )) د چا اثر دی ؟**

الف : حمزه بابا
ب : اشرف دروانې
ج : نصیراحمد
د : تول ناسم

**171. (( نوې څپې )) په کوم کال د چاپ ډګر ته را ووت ؟**

الف : ۱۹۵۷ م
ب : ۱۹۵۰ م
ج : ۱۹۵۷ م
د : الف او ب

**172. (( نوې څپې )) د چا اثر دی ؟**


الف : درویش درانې
ب : حمزه بابا
ج : اشرف درانې
د : حبیبي

**173. (( نوې زړکي )) په کوم کال چاپ شو؟**

الف : ۱۹۵۷ م
ب : ۱۹۵۰ م
ج : ۱۹۵۷ م
د : الف اوب

**174. لاندې کوم ناولونه سید رسول رسا ته اړونددي ؟**

الف : مفرور
ب : شمې
ج : خودکشي
د : تول سم



**175. (( مامونی او میخانه )) د چا اثار دي ؟**

الف : رشید علي دهقان
ب : سیدرسول رسا
ج : ډاکټر شېرزمان طایزي
د : حمزه بابا

**176. په افغانستان کې لومړنی ژباړل شوی ناول د کوم لیکوال دی ؟**

الف : ټاکور
ب : ویلیام شکسپیر
ج : ویکتور هوګو
د : پوشکین

**177. په افغانستان کې لومړنی ژباړل شوی ناول د څه شي په نوم یادیږي ؟**

الف : بېوزلان
ب : بېنوایان
ج : توریالی پښتنه
د : ټول ناسم

**178. (( په افغانستان کې دناول لومړنی لیکوال څوک و؟**


الف : حبیبي
ب : برهان الدین کشککي
ج : محمدین پژواک
د : موسی شفیق

**179. (( بېوزلان )) په کوم کال د چاپ ډکر ته ووت ؟**

الف : ۱۳۱۵ هـ.ش
ب : ۱۳۱۷ هـ.ش
ج : ۱۳۶۶ هـ.ش
د : ۱۳۱۰ هـ.ش

**180. په افغانستا کې لومړنی ناول په کوم کال چاپ او ولیکل شو ؟**

الف : ۱۳۱۷ هـ .ش
ب : ۱۳۴۴ هـ.ش
ج : ۱۳۱۰ هـ.ش
د : تول ناسم



**181. (( په پټه د پټو پلټنې )) د چا اثر دی؟**

الف : موس شفیق
ب : برهان الدین کشککي
ج : حبیبي
د : منور شاه

**182. (( گل خان، امانت ، رحمان کورونه ، غونډۍ او واده )) د کوم لیکوال اثار دي ؟**

الف : رشید علي
ب : محمد ابراهیم
ج : ډاکټر شیر زمان  عمژن طایزي
د : سیدرسول رس

**183. د (( ویساک )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : د هندوانو جشن
ب : د ثور میاشت
ج : د جعمې ورځ
د : د رخصتی ورځ

**184. ویکتور هو گو کوم هېواد ته اړوند لیکوال و؟**

الف: الman
ب : فرانسه
ج : ترکیه
د : روسیه

**186. ویکتور هوگو په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغړولې ؟**

الف : ۱۸۰۳م
ب : ۱۸۸۳ م
ج : ۱۸۸۵ م
د : ۱۸۰۲ م

**187. (( دسرو تعویذ )) د چا اثر دی؟**

الف : رشید علي دهقان
ب : محمد ابراهیم شبنم
ج : سیدرسول رسا
د : ټول ناسم

**188. ویکتور هوګو د کوم ادبي مکتب پیرو و؟**

الف : ریالیزم
ب : کلاسییزم
ج : رومانتیزم
د : سمبولیزم

**189. په انګلستان کې د رومانتیزم مخکښان عبارت دي له:**

الف : ویلیام بلیک
ب : او کالریج
ج : الف اوب
د : ویکتور هوګو

**190. رومانتیزم ادبي مکتب په کوم کال رامنځته شو؟**

الف : د اتلسمي پېړۍ په پاي
ب: د نولسمي پېړۍ په پیل کې
ج : ۲۰ پېړۍ
د : الف اوب

**191. (( خوابښې اوښوور)) د چا اثر دی ؟**

الف : رشید علي دهقان
ب : محمد ابراهیم شبنم
ج : سیدرسول رسا
د : ټول ناسم

**192. ویکتور هوګو په کوم کال له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې ؟**

الف : ۱۸۰۳م
ب : ۱۸۸۳ م
ج : ۱۸۸۵ م
د: ۱۸۰۲ م

**193. د ویکتور هوګور کوم اثر پښتوژبې ته را وژباړل شو؟**

الف : بېنوایان
ب : د یومحکوم سرګذشت
ج : مکافات
د : انتقام

**194. لاندې کوم اثار ویکتور هوګو ته اړوند دي ؟**

الف : سمندري کاریګران
ب : هغه سړی خاندي
ج : د خزان پاڼې
د : ټول سم

**195. لاندې کوم اثر د هوګو د وروستیو اثارو څخه شمېرل کیږي؟**

الف : د یو محکوم سرګذشت
ب : بېنوایان
ج : کرمول
د : بدمرغان

**196. د رمانتیزم ادبي مکتب بنسټ اېښودونکی څوک و؟**

الف : کارلیرج
ب : پوشکین
ج : هوګو
د : شکسپیر

**197. په جرمني کې د رومانتیزم ادبي مکتب پیروان څوک و؟**


الف : شیلر او ګویته
ب : هوګو او شاتو
ج : بریان او لارمارتین
د : هوګو

**198. رومانتیزم ادبي مکتب د کوم ادبي مکتب په وړاندې را منځته شو؟**

الف : کلاسيزم
ب : سمبوليزم
ج : رياليزم
د : ناسوريالیزم

**199. پوهان عبدالحی حبيبي په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغړولې ؟**

الف : ۱۲۸۸هـ.ش
ب : ۱۲۸۹ هـ.ش
ج : ۱۳۱۲ هـ.ش
د : ټول ناسم



**200. حبيبي په کوم کال ومړ؟**

الف : ۱۲۸۸هـ.ش
ب : ۱۲۸۹ هـ.ش
ج : ۱۳۱۲ هـ.ش
د : ۱۳۶۳هـ.ش

**201. دمقالې او رسالې ( کابکوټي ) ترمنځ توپير په نښه کړئ.**

الف : د رسالې او مقالې ترمنځ توپير نشته.
ب : د رسالې په نسبت د مقالې لمن لنډه وي.
ج : د رسالې په نسبت د مقالې مينه وال او مخاطبين ډېر وي.
د : ب او ج

**202. عادي يا اخباري مقاله کوم ډول مقاله ده ؟**

الف : چې لوستونکي يې کم وي
ب : چې لوستونکي يې ډېر وي.
ج : لوستونکي يې زياتره عام مينه وال دي.
د : لوستونکي يې خاص کسان وي

**203. علمي يا څېړنيزه مقاله کومې مقالې ته ويل کيږي؟**


الف : زياتره ځانګړې اوتخصصي بڼه لري.
ب : لوستونکي يې خاص کسان وي.
ج : د تخصص کسان يې ليکي.
د : ټول سم

**204. مقاله څه ته وايي ؟**

الف : هغه نثري ليکنه چې د يوې موضوع په اړه نسبتاً لنډه وي.
ب : هغه ليکنه ده چې ديوې موضوع په اړه نسبتاً اوږده وي.
ج : هغه ليکنه ده چې په نظم کې وي
د : هغه ليکنه ده چې په نظم او نثر کې وي.

**205. (( وېبلاګ )) څه ته وايي ؟**

الف : د يوه ځانګړي کس يا کسانو د خپرونو او ليکنو آرشيف ته وايي.
ب : د يوه ليکوال کتابتون ته وايي.
ج : د يوه ليکوال چاپ شوي اثارو ته وايي.
د : په يوه اثر د دوو ليکوالو څېړني ته وايي



**206. د پوهاند عبدالحی حبيبي مقبره چېرته ده ؟**

الف : کابل
ب : کندهار
ج : شهدای صالحين
د : ننګرهار

**207. لاندې اثارو کې د عبدالحی حبيبي اثار په نښه کړئ.**

الف : د پښتوادبياتو تاريخ
ب : پښتانه شعرا
ج : نوموړکي مورخين
د : ټول سم

**208. (( د افغانستان پېښليک )) د چا اثر دی ؟**

الف : حميد بابا
ب : خوشحال خان
ج : موسی شفيق
د: حبيبي

**209. په افغانستان کې لومړنۍ لنډه کيسه د کوم ليکوال له خوا وليکل شوه ؟**


الف : حبيبي
ب : سيدراحت زاخيلي
ج : برهان الدين کشککي
د : موسی شفيق

**210. (( توريالی پښتنه )) په کوم کال د چاپ ډګر ته ووته ؟**

الف ۱۳۱۵ه.ش
ب : ۱۳۱۷ ه.ش
ج : ۱۳۲۷ه.ش
د : ټول ناسم

**211. په افغانستان کې لومړنۍ لیکل شوې لنډه کیسه د څه شي په نوم یادیږي؟**

الف : تورپیکی
ب : توریالی پښتنه
ج : کونده انجلی
د : نیرنګ عشق



**212. (( توریالی پښتنه )) په کومې جریدې کې خپره شوه ؟**

الف : انیس
ب : طلوع افغان
ج : مشرقي
د : شمس النهار

**213. (( اوسنی لیکوال )) د چا اثر دی ؟**

الف : ګل پاچا الفت
ب : عبدالروف بېنوا
ج : عبدالحی حبیبي
د : خادم

**214. په کومو شعري فورمونو کې قافیه لازمه ده ؟**

الف : مثنوي
ب :  غزل
ج : قصیده
د : ټول سم

**215. آزاد شعر څه ډول شعر ته ویل کیږي؟**


الف : چې قافیه په  کې حتمي نه ده .
ب : وزن یې په عمومي ډول دیو شعر په کلیت کې په پام کې نیول کیږي او وزن یې د کومې  ټاکلې بېلګې تابع نه دی.
ج : کرښې یې لنډې او اوږدې وي
د : ټول سم

**216. ازاد شعر په کومې پیړۍ کې په اروپاکې خپلې لوړې پوړۍ ته ورسېده ؟**

الف :۱۸ پیړۍ
ب : ۲۰ پیړۍ
ج : ۱۷ پیړۍ
د : ۱۹ پیړۍ

**217. محمد صديق روهي د شعر عمده او اساسي توکي کوم ګڼي ؟**

الف : مفکوره او تخیل
ب : احساس یا عاطفه
ج : وزن
د : ټول سم



**218. د استاد روهي له نظره شعر څو ډوله ارزښتونه لري ؟**

الف : دوه ډوله
ب : دري ډوله
ج : څلورډوله
د : شپږډوله

**219. (( تولستوی )) د کوم هېواد لیکوال و؟**

الف : فرانسه
ب : امریکا
ج : روسیه
د: المان

**220. (( جګړه او سوله )) د چا اثر دی ؟**

الف : لیو تولستوی
ب : ژان ژاک روسو
ج : بلزاک
د : ټول ناسم

**221. شعر څه ته وایي ؟**


الف : شعر په وزن لرونکي ژبې سره د مفکورې اوتخیل عاطفي ترکیب دی.
ب : چي وزن او قافیه ولري
ج : چي وزن ولري اود قافیې شرط په کي نه وي مراعت
د : الف اوب

**222. د شعر په داخلي ارزښتونو کي کوم شیان شامل دي ؟**

الف : ښکلا اوتخیل
ب : تصویر او هنري ژبه
ج : وزن ،احساسات او جذبات
د : ټول سم

**223. د شعر بهرني ارزښتونو کې کوم شیان شامل دي ؟**

الف : اخلاق اوعلم
ب : فلسفي او سیاست
ج : ایډیالوجي
د : ټول سم



**224. د محمد صدیق روهي په آند د شعر ارزښتونه کوم دي؟**

الف : اصلي ارزښتونه
ب : بهرني ارزښتونه
د : ټولنیز ارزښتونه
د : الف او ب

**225. (( تاریخ مختصر افغانستان )) د چا اثر دی ؟**

الف : عبدالروف بېنوا
ب : حبیبي
ج : قیام خادم
د : رښتین

**226. ادبپوهنه په څو برخو وېشل کیږي ؟**

الف : دوه ډوله
ب : دري ډوله
ج : څلور ډوله
د : شپږ ډوله

**227. ادبپوهنه څه ته وایي ؟**


الف : هغه پوهه ده چې ادبي مسایل تر څېړنې لاندې نیسي
ب : هغه پوهه ده چې ژبني مسایل ترڅېړنې لاندې نیسي
ج : د ادب د څېړلو، ارزولو، کره کولو او تاریخي مطالعې ته ادبپوهنه وایي.
د : الف او ج

**228. ادبي کرکتنه د کومې پوهې څانګه ده ؟**

الف : ژبپوهنه
ب : ادبپوهنه
ج : ادبي فنون
د : معاني

**229. ادبي کرکتنه څه ته وايي ؟**

الف : د ادبي اثارو هراړخيزې ارزونې ته وايي.
ب : چې د ادبی اثارو ښکلاوط او نيمګړتياوې په نښه کوي.
ج : چې د ادبي اثارو نيمګړتيا په ګوته کوي
د : الف او ب



**230. څېړونکو د کره کتنې لپاره کوم شرطونه په نظر کې نيولي دي ؟**

الف : ذوق
ب : پراخ ادبي معلومات او اطلاعات
ج : تجربه او زيات تمرين
د : ټول سم

**231. ادبي ذوق له کوم برخو جوړ دی ؟**

الف : فطري استعداد
ب: او بل ادبي او هنري تربيت چې اکتسابي بڼه ولري
ج : الف او ب
د : پوره معلومات

**232. علي محمد مخلص (( حالنامه )) په کومه ژبه ليکلې ؟**

الف : پښتو
ب : دري
ج : فارسي
د : ب او ج

**233. کوم اثر مونږ ته د بايزيد روښان د غورځنګ په هکله ډېر مهم او لومړني لاس ته راغلي معلومات په لاس راکوي ؟**

الف : مراته العارفين
ب : سراح العارفين
ج : حالنامه
د : صرالتوحيد

**234. حاجي جمعه بارکزی د چا هم عصره و؟**

الف : بایزید روښان
ب : علي محمد مخلص
ج : خوشحال خان
د : سردار کندل خان

**235. پښتانه د بشري لویو کورنیو په لړ کې هندو اروپایي او په هغه کې آریایي باختري توکم دی . دا نظریه په کومه پیړی کې ژبپوهانو ته پیدا شوه ؟**

الف : اتلسمه پیړۍ
ب : د نولسمي له پیله
ج : شلمه
د : یویشتمه

**236. (( پښتو د جوړښت اود لغاتو د پانګې دواړو په برخه کې له بلې هرې ژبې څخه زیات له اوستا سره نږدې ده .)) د کوم ختیځ پوه نظر دی ؟**

الف : ډارمسټټر
ب : شلي ډپور
ج : سبیستیان
د : ټول ناسم

**237. لاندي شعر کوم شاعر ته اړوند دی ؟**

*لا په خوب کې په لړزه پرېوځي له کته چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی*

الف : ګل پا چا الفت
ب : خوشحال بابا
ج : غني خان
د : حمزه بابا

**238. سلیمان ماکو دکومي دورې شاعر دی ؟**

الف : لرغوني
ب : منځنۍ
ج : کلاسیکه
د : معاصرې

**239. سلیمان ماکو د چا زوي و؟**

الف : د بارک خان صابزي ماکو
ب : احمد علي خان
ج : الهداد
د : مهدي خان

**240. سلیمان په کومه سیمه کې ژوند کاوه ؟**

الف : د کندهار په ارغستان

ب : هرات

ج : غور

د : ټول ناسم

**241. ابوهاشم سرواني د کومو کالونو ترمنځ ژوند کاوه ؟**

الف ۲۳۴ ــ ۲۹۷ هـ.ق

ب : ۲۲۳ ــ ۲۹۷ هـ.ق

ج : ۳۹۹ ــ ۳۹۷ هـ.ق

د : ټول سم

**242. د سلیمان ماکو د تذکرته اولیا د کتاب څو پاڼې زموږ تر لاسه را رسېدلي دي ؟**

الف : دولس

ب : لس

ج : اووه

د : شل

**243. د (( دخلکو سندرې )) نومي کتاب لیکوال د خلکو ادبیات په عمومي توګه په کومو برخو وېشلي ؟**

الف : د خلکو سندرې ( منظوم ادب)

ب : د خلکو روایات ( منثور ادب )

ج : خاص او عام

د : الف اوب

**244. د پښتو په ولسي سندرو کې کوم شعري فورم ځانګړي مقام لري ؟**

الف : لنډۍ

ب : سروکی

ج : چاربیته

د : نیمکۍ

**245. ښکارندوی چېرته اوسېده ؟**

الف : کندهار

ب : غور

ج : بلخ

د : هندوستان

**246. په کوم کتاب کې د ښکاروندوی د ژوندپه هکله معلومات راغلي دي ؟**

الف : پټه خزانه
ب : تذکرته اولیا
ج : سالووړمه
د : تاریخ مرصع

**247. ښکارندوی غوري د پښتو ژبې دکومې دورې شاعر و؟**

الف : معاصرې
ب : کلاسیکي
ج : منځنۍ
د : لرغوني

**248. د ښکارندوی غوري څو بیتیزه قصیده ترمونږ را رسېدلې ده ؟**

الف : ۷۰
ب : ۴۵
ج : ۴۴
د : ۵۵

**249. سلطان محمد سام شنسباني ( سلطان شهاب الدین ) په کومو کلونوکې پر غور واکمني کوله ؟**

الف : ۵۶۹-۶۰۲هـ.ق
ب : ۵۷۹- ۷۰۲ هـ.ق
ج : ۶۰۹- ۷۰۷هـ.ق
د : ټول ناسم

**250. کاظم خان شیدا دکومې ادبي دورې شاعر و؟**

الف : خورا لرغوني
ب : لرغوني
ج : منځنۍ
د : نوې

**251. کاظم خان شیدا د کوم ادبي مکتب پیرو و؟**

الف : خوشحال
ب : حمید بابا
ج : هندي
د : ب او ج

**252. لاندې بیت کې د قافیې کلمې په نښه کړئ.**

*د شبنم دانه که تخم شي د ګلو        زړه به  سوړ په ديدن نه شي د بلبلو*

الف : شبنم

ب : ګلو او بلبلو

ج : شي او شي

د : ديدن او دانه

**253. لاندې بيت کوم شاعر ته اړوند دی ؟**

*لا په خوب کې په لړزه پرېوځي له کټه        چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی*

الف : حميد بابا



ب : اسماعيل يون

ج : غني خان

د : خوشحال بابا

**254. قافيه د کومې ژبې کلمه ده ؟**

الف : دري

ب : فارسي

ج : عربي

د : پښتو

**255. قافيه په لغت کې څه ته وايي ؟**

الف : روسته

ب : ناوخته

ج : ځنډه

د : ټول سم

**256. د قافيې توري څه ته وايي ؟**

الف : هغه توري د کلمو هماغه برخه ده چې همغږي جوړوي

ب :  هغه برخه ده چې روي جوړه وي

ج : چې رديف پرته له هغه نه شي راتلی.

د :ټول سم

**257. په لاندې بيتونو کې د قافيې هماهنګې برخې په نښه کړئ.**

*د شبنم دانه که تخم شي د ګلو        زړه به  سوړ په ديدن نه شي د بلبلو*
*هيڅ نقصان د ساده حسن جمال نشه        د آفتاب په رخسار هم خط و خال نشته*

الف : ګلو او بلبلو

ب : جمال او خال

ج : لو او ال

د : ټول ناسم

**258. د نظم اساسي رکن عبارت دی له:**


الف : قافیه

ب : ردیف

ج : وزن

د : هېڅ یو

**259. دشعر اساسي رکن عبارت دی له:**



الف : قافیه

ب : ردیف

ج : وزن

د : سجع

**260. په کومو شعري فورمونو کې د قافیې مراعت کولو ته پام نه کیږي ؟**

الف : ازاد شعر

ب : سپین شعر

ج : آزاد نظم

د : ټول سم

**261. دور په لغت کې څه ته وایي ؟**

الف : پېر

ب : دوران

ج : حرکت او څرخېدنه

د : ټول سم

**262. (( دور )) په اصطلاح کې څه ته وایي ؟**

الف : د بیت یا نظم له پیل څخه د لومړۍ هماهنګۍ ترپای پورې یو دور بلل کیږي.

ب : د قافیې کلمو ته وایي

ج : ردیف ته وایي.

د : د بیت مسرو ته وایي

**263. (( بیت )) کوم ډولونه لري ؟**

الف : قافیي


ب : مصرع

ج : غیر مصرع
د : ب او ج

**264. مصرع بیت کوم ډول بیت ته ویل کیږي ؟**

الف : چې د یوه بیت هره مسره ( نیم بیتي ) قافیه ولري.
ب : چې د یو بیت هره مسره قافیه او ردیف ولري.
ج : چې د یوه بیت هره مسره قاقیه ونه لري.
د : چې د یوه بیت هره مسره څو قافیې ولري.

**265. غیر مصرع بیت کوم بیت ته ویل کیږي ؟**



الف : چې د یوه بیت هره مسره ( نیم بیتي ) قافیه ولري.
ب : چې د یو بیت هره مسره قافیه او ردیف ولري.
ج : چې د یوه بیت یوازې یوه مسره قافیه ولري.
د : چې د یوه بیت هره مسره څو قافیې ولري.

**266. د قافیې او ردیف توپیر په نښه کړئ.**

الف : قافیه تر پایه له هم آهنګو تورو اوغږونو حخه جوړه وي اومعناییز یووالی نه لري.
ب : ردیف تر قافیې روسته په هماغه یوه لغظي او معنا ییزه بنه بیابیا راځي.
ج : قافیه په کلاسیکو شعري چوکاټونو کې لازمي او ردیف اختیاري وي.
د : ټول سم

**267. په لاندې بیتونوکې روي په نښه کړئ.**

*د شبنم دانه که تخم شي د ګلو زړه به سوړ په دیدن نه شي د بلبلو*
*هېڅ نقصان د ساده حسن جمال نشه د آفتاب په رخسار هم خط و خال نشته*

الف : ل
ب: لو
ج : ال
د : لو او ال

**268. مطلقه روي کومې روي ته ویل کیږي ؟**

الف : چې د روي توري حرکت ولري
ب : چې د روي توري حرکت ونه لري
ج : چې د روي توري په کانسونینت پیل شوي وي
د : ټول ناسم

**269. مقیده روي کومې روي ته ویل کیږي ؟**

الف : چې هماهنګه برخه په دوه کانسوننټو تورو پیل شوي وي.
ب : چې د روي توري حرکت ونه لري
ج : چې د روي توري په واول پیل شوي وي.
د : الف اوب

**270. هغه قافیه چې ردیف ورپورې نه وي تړل شوی د څه شي په نوم یادیږي ؟**

الف : مقیده
ب : مطلقه
ج : مجرده
د :حکیمه

**271. دمثنوي شعري فورم کې قافیه په کوم ډول وي ؟**

الف : هر بیت ځانته قافیه لري
ب : هر مسره یې ځانته لري
ج : هېڅ یې نه لري
د : ټول ناسم

**272. په (( غزل ، قصیده او څلوریزه)) کې قافیه په کوم ډول راوړل کیږي؟**

الف : د لومړي بیت دواړه مسرې هم قافیه وي.
ب : د نورو بیتونو وروستني نیم بیتي یې باید له مطلع سره هم قافیه راشي.
ج : بیتونه یې سره هم قافیه نه وي.
د : الف اوب

**273. د (( ادب )) لغوي معنا په نښه کړئ.**

الف : پوهه او فرهنګ
ب : معرفت او غوره لاره
ج : ښه خوی
د : ټول سم

**274. خوشحال خان ختک په کوم کال دې نړۍته سترګې وغړولې ؟**


الف : ۱۱۰۰ ه.ق
ب : ۱۰۲۲ ه.ق
ج : ۱۰۲۳ ه.ق
د : الف اوب

**275. (( بس دی محنت د ببلتانه )) ابجدي کال کوم دی ؟**

الف : ۱۰۷۶
ب : ۱۱۷۶
ج : ۱۲۰۰
د : ۱۱۶۷

**276. دستار نامه له سریزې روسته په څو بابونو وېشل کیږي؟**

الف : څلور
ب : دري
ج : دوه
د : هېڅ یو



**277. خوشحال خان د شل هنرونو او شل خصلتونو یادونه په خپل کوم کتاب کي کړې ؟**

الف : فراقنامه
ب : بیاض
ج : طب نامه
د : دستار نامه

**278. له مسجع نثر څخه د پښتو نثر بدلون ساده نثر ته د چا له خوا وشو؟.**

الف : حمید بابا
ب : بایزید روښان
ج : خوشحال
د : افضل خان

**279. د مستبد لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف : مهربان
ب : خواخوږی
ج : همراز
د : ظالم

**280. خوشحال خان په کوم کال ومړ؟**

الف : ۱۱۰۰ ه.ق
ب : ۱۰۲۲ ه.ق
ج : ۱۰۲۳ ه.ق
د : الف اوب

**281. دپېښور په علومو اکاډمی کي د پښتو ژبې څومره نسخي خوندي دي ؟**

الف :۱۴۴
ب : ۵۲۰
ج : ۱۷۷
د : ۱۶۹

**282. د افغانستان په علومو اکاډمی کې د پښتوژبې څومره نسخې شتون لري ؟**

الف :۱۴۴
ب : ۵۲۰
ج : ۱۷۷
د : ۱۶۹

**283. په پښتو ژبه کې مشهور ادبي مکتبونه څو دي ؟**

الف : دوه
ب : درې
ج : څلور
د : پنځه

**284. د حمید بابا د کوم اثر په پیدا کېدوسره د هغه د ژوند نېټه معلومه شوه؟**

الف : نیرنګ عشق
ب : شرعته الاسلام
ج : شاه او ګدا
د : دیوان

**285. شاه او ګدا د حمید بابا کوم ډول اثردی ؟**

الف : منظوم
ب : منثور
ج : منظوم اومنثور
د : ټول سم

**286. حمید بابا خپل شاه او ګدا اثر له کومې ژبې را ژباړلی ؟**


الف : هندي
ب : عربي
ج : فارسي
د : هېڅ یو

**287. نېرنګ عشق د کوم لیکوال اثر و؟**

الف حمید بابا
ب : مولانا محمد اکرم غنیمت
ج : هلالي چغتایي
د : ابوبکر

**288. حمید بابا خپل اثر نیرنګ عشق له کومې ژبې څخه را ژباړلی ؟**

الف : هندي
ب : عربي
ج : فارسي
د : هېڅ یو



**289. حمید بابا شرعته الاسلام په کومه بڼه پښتو ژبې ته را ژباړلی ؟**

الف : منظوم
ب : منثور
ج : منظوم اومنثور
د : ټول سم

**290. شرعته الاسلام له کومې ژبې څخه را ژباړل شوی ؟**

الف : هندي
ب : عربي
ج : فارسي
د : هېڅ یو

**291. شرعته الاسلام د چا اثر و؟**

الف : محمود بن ابي بکر الحنفي
ب : هلالي
ج : حافظ مرغزي
د :مولانا غنیمت

**292. لاندې شعر کوم شاعر ته اړوند دی ؟**

*چې دبل په نامرادۍ کې مراد غواړې          دا سبب ګڼه د خپلې نا مرادۍ*

الف : ګل پاچاالفت
ب : حمید بابا
ج : رحمان بابا
د : خوشحال

**293. حمید بابا په کوم لقب ستایل شوی ؟**

الف : بابا
ب : موشګاف
ج : نازکخیال
د : ټول سم

**294. د حمید په منظومو ژباړو کې کومې منظومې ډېرې په زړه پورې دي ؟**

الف : نیرنګ عشق
ب : شاه او ګدا
ج : الف اوب
د : شرعته الاسلام

**295. د حمید بابا د ژباړې ځانګړنې په نښه کړئ.**

الف : پر دواړو ژبو کې پوره لاس رسی.
ب : دده ژباړې څخه د بلې ژبې د تعبیرونو رنګ نه لړیږي.
ج : ترجمه یې ټکي په ټکي نه بلکې ازاده ده او همدارنګه د ترجمې یې د ژباړې بوی نه رازي.
د : ټول سم

**296. حمید بابا کوم اثار په نظم ژباړلي ؟**

الف : نېرنګ عشق
ب : شاه او ګدا
ج : شرعته الاسلام
د : ټول سم

**297. محمد حیدر ژوبل د هندي سبک په هکله کوم نظر لري ؟**

الف : باریک مضمونونه، پېچلي افکار،غیر طبیعي خیالونه ، خاصې استعارې او تشبیه ګانې...
ب : له ژوند نه شکایت...
ج : د اغراق او مبالغې په ډول دغم درداو خپګان څرګندولو ته تمایل
د : ټول سم

**298. هلالي چغتایي د کومې دورې شاعر و؟**


الف : نهمې هجري پېړې د پای
ب : د لسمې هجري پېړۍ د پیل
ج : الف اوب
د : د دولسمې هجري پېړۍ

**299. د (( مصاحب )) لغت سمه معنا په نښه کړئ.**

الف :  ملګرى
ب : دوست
ج : نديم
د : ټول سم

**300. سبک په لغت کې څه ته وايي ؟**

الف : د سرو زرو ويل پکول
ب : د سپينو زرو ويلي کول او په قالب کې اچولو ته وايي.
ج : طريقه، روش
د : الف اوب



**301. اوستا دکومي ژبې له ډلي څخه ده ؟**

الف : آريايي
ب : شرقي
ج : يوګوسلاويک
د : سلتيک

**302. او ستا د کوم دين مذهبي کتاب و؟**

الف : بودايي
ب  :  زردشت
ج : يهودي
د: ټول سم

**303. اوستا په کوم بل نوم ياده شوې ؟**

الف : هندو آريايي
ب : هندو اروپايي
ج : زند
د : هندو جرمن

**304. پښتو ژبه له کومې ژبې سره ډېره نږدې ده ؟**

الف : اوستا
ب : زند
ج : سامي
د : الف اوب

درنښت  !

تر تيبوونکى :  تمهيد الله   ((  سيلاني  ))




Griffin MANAGEMENT
Dictionary
Oxford

لیكونكی : سیلانی

www.haqiqat.se